تر هغه پورې قيامت نه قايميږي تر دې چې يو سړی به د خپل ورور په قبر تېر شي او وبه وايي، کاش چې زه د دې پر ځای وم

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «تر هغه پورې قيامت نه قايميږي تر دې چې يو سړی به د خپل ورور په قبر تېر شي او وبه وايي، کاش چې زه د دې پر ځای وم».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې قيامت تر هغه پورې نه قايميږي تر دې چې يو سړی به په يو قبر تېر شي نو ارمان به وکړي چې کاشکې د مړي پر ځای وای، او لامل به يې په خپل ځان وبره وي چې هسې نه د باطل او د باطل پرستو د بريا او د فتنو، ګناهونو او منکراتو د ځرګندېدو په صورت کې ترې دين لاړ نشي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65022